د افغانستان اسلامي امارت

**د چارو اداري لوی ریاست**

د لارښوونو او حکمونو د تعقیب ریاست

نېټه :

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د دفتر ریاست
د صادري نمبر (　　) نېټه:　/　/ ۱۴۰۰

۱۴۴۷-۴-۱　　۵۵۷۵

ګڼه :

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د اوبو او انرژۍ محترم وزارت ته!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

**موضوع: د ا.ا.ا د ریاست الوزراء محترم مقام د ۱۴۴۷/۳/۲۷نېټې (۲۱۰۶)مه ګڼه حکم ابلاغ**

د ا.ا.ا د کابینې د ۱۴۴۶/۱۲/۱۹نېټې د (۲۲)مه ګڼه مصوبې (د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله تعالی د ۱۴۴۷/۱/۲۰نېټې (۴۴۶/۹۱)مه ګڼه حکم) پر اساس د بندونو او سیندونو حریم د زرغونتیا او خدمتونو وړاندې کولو په موخه خصوصي سکتور ته د پانګونې او اجارې ورکولو په اړه د اجراآتو راپور د ریاست الوزراء محترم مقام ته وړاندې شوی چې په اړه یې داسې فرمایلي دي:

**" وکتل شو! وړاندیز شوی غوراوی تائید دی."**

وړاندیز شوی غوراوی په دې ډول دی:«پورته ذکر شوې پرېکړې تائید دي. د اقتصادي کمېسیون د څلورمې مصوبې اتم بند موضوع کې چې د ۱۴۴۵هـ ق کال ٦ ګڼې مصوبې د تحقق په موخه « ***د سیندونو د حریم اندازه مشخصه کړئ او همدارنګه د سیندونو د حریمونو خوندیتوب په موخه دې د اوبو او انرژۍ وزارت یاد حریمونه د ځنګلونو د کرلو لپاره خصوصي سکتور ته په اجاره ورکړي*** » په تړاو چې کمېټه تاکل شوې وه، ذکر شوې پرېکړې دې یادې کمېټې ته راجع، تر څو د ۱۱پرېکړیز سند د تطبیق او د یادې موضوع پروسه کې په نظر کې ونیسي.»

د اړوند کمیټې پریکړې په دې ډول دي:

هغه ۱۱ پریکړه ییز سند چې د ا.ا.ا د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال تر مشرۍ لاندې د اقتصادي کمیسیون ۱۴۴۶/۴/۲۴نېټې ۴ګڼه مصوبه اتمه موضوع چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له خوا په ۱۴۴۶/۷/۳نېټې او (۳۵۲۰/۵۰۳)ګڼه حکم په ترڅ کې منظوره شوې وه، په مصوبه کې یاده شوې مؤظفه کمیټه دې د لاندې اصلاحاتو په نظر کې نیولو سره خپلو کارونو ته ادامه ورکړي:

- په ۱۱ پریکړه ییز سند کې چې د **"تاسیساتو"** کلیمه ذکر شوې ده، هغه دې د اداري کمیسیون د پریکړې مطابق چې د ا.ا.ا د ریاست الوزراء محترم مقام د ۱۴۴۵/۲/۲۱کال د (۱۰۰۰)مه ګڼه حکم **(چې د اوبو تأسیسات د وزارتونو ترمنځ په کې تفکیک شوي دي)** په اساس تشریح او تفکیک کړي.
- د سیندونو او بندونو په حریم کې د جوړیدونکو تفریحي او تجارتي ځایونو په اړه دې نیازمنده اداره یا شخص، د اوبو او انرژۍ وزارت، چاپیریال ساتنې ملي اداري ترځنګ د اطلاعاتو او کلتور وزارت موافقه هم واخلي.

- د اوبو او انرژۍ وزارت دې د اقتصادي کمیسیون له لوري تاکل شوې کمیټې سره په همغږۍ، د سیندونو او بندونو بستر او حریم د (علمي، تخنیکي او حقوقي) معیارونو په نظر کې نیولو سره تعین او تثبیت کړي.
- د اوبو او انرژۍ وزارت د بندونو او سیندونو د بستر او حریم د ټاکل کیدو وروسته، د اوبو د مدیریت، تجارت، تفریح او زرغونتیا لپاره که کوم اجراآت ترسره کوي نوعیت ته په کتو؛ که ځمکه امارتي (سلطاني) وي، لومړی به د ځمکو د انتقال پروسه طی مراحل کوي او که چیرې ځمکه د نورو امارتي ادارو (خالصه جایدادونه) وي، بیا دې د اړونده ادارو موافقه ترلاسه او وروسته دې د انتقال پروسه طی مراحل کړي او که چیرې ځمکه شخصي وي، نو د اشخاصو موافقه دې ترلاسه او وروسته دې، استملاک کړي.

له دې لیک سره یو ځای مو یاد هدایت او اړوند اسناد په (۲) پاڼو کې تاسو ته ولېږل، هیله ده د محترم مقام د یاد حکم سره سم اجراآت ترسره کړئ. والسلام

**شیخ الحدیث نور الحق انور**
**د ا.ا.ا د چارو اداري لوی رئیس**

کاپي:
- د اقتصادي محترم کمیسیون؛
- د ښاروالیو چارو د انسجام محترم لوی ریاست؛
- د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ محترم وزارت؛
- د کانونو او پټرولیم محترم وزارت؛
- د مالیې محترم وزارت؛
- د کابل محترمې ښاروالۍ؛
- د چاپیریال ساتنې محترمې ملي ادارې؛
- د امارتي شرکتونو محترم لوی ریاست؛
- د امارت چارو د انسجام معاونیت د ملي اقتصاد او زیربناوو محترم ریاست؛
- د دفتر ریاست د پلان، اوامرو او هدایاتو د تعقیب او راپور ورکولو محترم آمریت او
- د حکمونو او فرمانونو د ثبت محترم امریت ته.